


# صیام الدین « پسرلی »



د نشر نیټه : 25 جولای 2015 م


# وحشتناکه سیمه!



د جغرافیوي موقعیت له مخې دا سیمه ډېره حساسه او د اهمیت ځخه ډکه ده. د یوې خوا ستراتیژیک موقعیت یې او له بلې خوا ددې سیمې منابع او زیرمې هغه څه دي، چې له ډېر وخت را په دې خوا دلته جنګ، ویر او وحشت جوړ کړي.
ددې سیمې خلک ډېر غریب، بې سواده او خوش باوره دي. لږ پوه او باسواده خلک چې په کې پیدا شي، نو نورو هیوادونو ته تښتي بیا د ویرې، درد او غم له ډاره بیرته نه ستنیږي. یوازې هغه ډله چې خپل منافع یا ګټه په دغه سیمه کې ګوري د لنډ وخت لپاره بیرته ستنیږي.
مشران یې خپل قدرت پایښت په نژادې، مذهبي، ژبنې، او سمتي تعصباتو کې ګوري. همدا لامل دی، چې هڅه کوي تر څو خلک په کورنیو او خپل منځي اختلافاتو او جنګونو ښکیل کړي. په دې کار نه یوازې ددې مشرانو قدرت پایښت مومي بلکې ګاونډیان او زورور هیوادونه هم ترې سوی استفاده کوي.

په دغه سیمه کې د خلکو وینه ډېره ارزانه ده. که دوی کوم خارجي تبعه ووژني نو په مقابل کې همدا خارجیان د عمل بالمثل څخه کار اخلي حتی د خپل قهر د سړولو لپاره ډېر افراطي وژني هم کوي، ولی که دوی څوک ووژني بیا د پوښتنې لپاره څوک نشته، ډېری داسي مثالونه شته، چې په دغه سیمه کې خارجیان او مخالفین د دوی په ودونو، دودیزو او اختریزو مراسمو چاودنې کړي، چې په نتیجه کې لسګونه ان سلګونه خلک وژل شوي دي.
ولس یې د سولې او ورورولۍ تږي دي او د همدې هدف لپاره سرګردانه ښکته پورته منډې وهي او قرباني ورکوي، خو له بده مرغه د پردیو په دسیسو او لمسون د داعش، طالب، القاده، دولتي او غیر دولتي کارمند په نومونو شهیدان کیږي.

په دغه سیمه کې دوه ډلې خلک ډېر نفوذ، قدرت او قدر لري.
اول: هغه ډله چې د پرمختللي خارجي هیوادونو ملاتړ ولري او یا په ساده اصطلاح د خپل ملي منافعو په نسبت د خارجي ملاتړ کوونکي هیواد منافعو ته ترجیع ورکوي.

دوهم: هغه ډله خلک چې د خپل معاش تر څنګ د حرامو لارو لکه غلا، رشوت، قاچاق، خیانت، جاسوسي، اختطاف او نورو لارو پیسي پیدا کوي.

پخوا وختونو کې دا ډول خلک په دغه سیمه کې ډېر پست، رزیل، کم عقل او لعنتي انسانان ګڼل کیدل، خلکو به ورسره راکړه ورکړه نه کول حتی کورونو ته به یې اور اچول، خو اوس برعکس عمل کیږي. خلک دې ته نه ګوري چې دا خلکو د کومو لارو پیسي او قدرت پیدا کړي. بس چې پیسي او قدرت ولري دوی یې چاپلوسي او نوکري کوي.

ډېر پخوا ددې سیمې خلکو په لوړو سترګو په نورو قدرت کاوه، په نړۍ کې د غیرت میراني او اتفاق مثل یې نه پیدا کیده، په سیاست، اقتصاد، فرهنګي او نظامي چارو پوه خلګ وه.
جغرافیوي ساحه یې ډېره پراخه وه،  خو د ځینو وحشي انسانانو د لاسه د دوی ټول هستي او ویاړونه په اوبو لاهو شو. جغرافیوي ساحه یې تقیسم شوه، اختلافات او جنګونه ډېر شو، مکتب، کلنیک، کورونه، بندونه، پلونه، سړکونه او پارکونه ټول وران او وجاړ شول. خو له نیکه مرغه ددې سیمې خلک د خپل خاوري څخه د سر په قیمت دفاع وکړل، حتی تر دې چې دا سیمه د زورواکو او یا لویو امپراطوریو د قبرستان په نامه هم یادیږي.
جنګونه او وژني ددې سبب شو، چې ددې ویاړلي ولس ټول ارزښتونه په اوبو لاهو شي. تل دا ولس هڅه کړی، چې بیرته پخپلو پښو ودریږي او ټول د لاسه ورکړل شوي ارزوښتونه ژوندی کړي، خو له بده مرغه د دوښمنانو د لاسه بیرته ځپل کیږي. له نیکه مرغه دا ولس د پردیو په لاسوهنو او تخریبي کارونو پوه شوی دی، اوس دوښمن د دوست په جامه دوی نه شي غولولی.

دا سیمه د اسیا په زړه د ایران، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او چین هیوادونو په منځ کې  پرته ده. دا سیمه جسد او اسلام یې د روح په معنی دی. دوښمنانو ډېري هڅي کړي، تر څو د اسلام پر ځای نور مذاهب او نظامونه عام کړي، خو شکر نه دي توانیدلي.

ددې سیمې د ابادی او تل پاتي سولې په هیله

صیام الدین « پسرلی »

بازګشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org